مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۱۱/۰۴

له جبري راستنېدو تر بيا مېشته کېدو پوري:

د نړيوالو او ملي مسئوليتونو ترمنځ تشې

له پاکستان او ايران څخه د افغان کډوالو پراخه او جبري راستنېدنه په وروستيو کلونو کې د افغانستان له مهمو بشري، اقتصادي او ټولنيزو ننګونو څخه ګڼل کېږي. د لسيزو جګړو، بهرنيو يرغلونو، کورنيو شخړو او اقتصادي ستونځو له امله ميليونونه افغانان اړ شوي چې خپل هېواد پرېږدي او په نورو هېوادونو کې پناه واخلي. اوس چې د دغو کډوالو يوه لويه برخه د جبر او فشار له لارې بېرته راستنېږي، د هغوی د بيا مېشته کېدل او عادي ژوند ته راګرځېدل او بيا رغوني مسائل د کوربه هېوادونو، نړيوالو ادارو او اړوندو افغان بنسټونو په وړاندې ستر مسئوليت دی. له بده مرغه، هېڅ يوه لوري د دغه بهير د مديريت لپاره لازم او اغېزمن اقدامات ونه کړل.

هېواد ته د کډوالو د راستنېدو او په خپل تاټوبي کې د بيا مېشت کېدو لپاره د مناسبو شرايطو برابرول د هغوی د ستونځو د حل اساسي لاره ده. د را ايستلو او راستنېدو بهير يوازې هغه وخت بريالی ګڼل کېدای شي چې د پاکستان ايران، افغانستان او اړونده نړيوالو بنسټونو ترمنځ همغږي شتون درلوداى، را ايستل په باعزته ډول واى او راستنېدونکو ته په خپل هېواد کې د ژوند کولو لپاره اقلاً لمړني امکانات برابر شوي واى. هغه کورنۍ چې له لسيزو کډوالي وروسته خپل هېواد ته ستنېږي، تر هر څه وړاندې د اوسېدو ځای، کار، روغتيايي خدمتونه، د ماشومانو د زده‌کړو اسانتياوې، حقوقي اسناد او د ټولنې ملاتړ ته اړتيا لري. د راستنېدونکو لپاره د دغو شرايطو برابرول بايد د راستنېدو د بهير برخه وي.

له بده مرغه، د راستنو شويو افغان کډوالو د بيا مېشته کېدو په برخه کې ملګرو ملتونو، نورو نړيوالو ادارو او اړوندو افغان بنسټونو هغه اقدامات ونه کړل چې د شته امکاناتو په پام کې نيولو سره ممکن او د بشري اړتياوو له مخې اړين وو. د دغه بهير يوه تر ټولو جدي نيمګړتيا د راستنو شويو کورنيو د استوګنې لپاره د مناسبو ځايونو په برابرولو کې ستونځې دي. ګڼې کورنۍ له اوږدې کډوالي وروسته په داسې حالت کې راستنې شوې چې د اوسېدو لپاره يې نه د پنځه لسيزو مخکې کورونو شتون درلوده، نه هم د لنډمهالي سرپناه لپاره ځای او نه هم نورې بشري اسانتياوې. د کور او سرپناه نشتوالی يوازې يوه مادي ستونځه نه ده، بلکې د روغتيا، زده‌کړو، کارموندنې او ټولنيز ثبات پر نورو اړخونو هم مستقيمې اغېزې لري.

د نړيوالو ادارو، په ځانګړې ډول د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنري (UNHCR) او نورو بشري سازمانونو، د دغه وضعيت د مديريت لپاره د پام وړ تخنيکي تجربه، نړيوال نفوذ او د مرستو د راټولولو امکانات درلودل. تمه وه چې د بېرنيو بشري مرستو ترڅنګ به د راستنو شويو د استوګنې لپاره د کورونو د جوړولو، بيارغونې، ټولنيز او اقتصادي ادغام په برخه کې اوږدمهاله پروګرام هم رامنځته شوی واى. خو د خوراکي او نغدي مرستو او محدودو بېرنيو خدمتونو ترڅنګ، د کور جوړولو، د کارموندنې، مسلکي زده‌کړو، کوچنيو کاروبارونو او کرنيزو فرصتونو په برخو کې څنګه چې تمه کېده اړين ګامونه پورته نه شول.

د نړيوالو ادارو ترڅنګ، اړوند افغان بنسټونه هم د راستنو شويو کډوالو د ستونځو په حل کې مهم مسؤليت لري. د راستنېدونکو د اړتياوو دقيق ثبت، د ځمکو او ملکيتونو د حقوقي ستونځو حل، د استوګنې لپاره د ځمکې ورکولو په ګډون د لنډمهاله او اوږدمهاله اسانتياوو برابرول، د اسنادو تنظيم، د عامه خدماتو پراخول او له خصوصي سکټور سره د کاري فرصتونو رامنځته کول بايد د ملي پلان اساسي برخې واى. سمه ده چې د افغانستان محدود اقتصادي امکانات، د لسيزو جګړو زيانونه او د بنسټيزو خدماتو کمزورتيا د دغو مسؤليتونو ترسره کول ستونځمن کړي دي، خو راستنو شويو کډوالو ته اقلاً د هستوګنيزو نمرو په سپارلو کې بايد ستونځه نه واى.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دغې ستونځې یو بل مهم اړخ د کډوالو د راستنېدو د شرایطو او د هغوی د بېرته جذبولو د ظرفیت ترمنځ توپیر دی. له کډوالو سره د کوربه هېوادونو ناوړه چلن یقیناً د راستنېدو په بهیر کې چټکتیا رامنځته کوي او د راستنېدو د بهیر چټکتیا په خپله د هغوی د بیا مېشتېدنې لپاره د مناسبو شرایطو د برابرېدو معنا نه لري. د نړیوالو اصولو له مخې، په خپله خوښه راستنېدل باید د خوندیتوب، کرامت او اګاهانه غوراوي پربنسټ وي، خو دلته داسې هیڅ نشته. د راستنېدو اوږدمهاله حلالاره هغه وخت رامنځته کېږي چې کډوالو ته په اصلي هېواد کې د ژوند د بیا پیل لپاره واقعي امکانات موجود وي او عیني واقعیتونو ته په کتو دغه امکانات برابرول په افغانستان کې اسانه کار نه دی.
د راستنېدونکو د بیا مېشته کېدو لپاره د داسې ځو کلن او د پایلو پربنسټ ولاړ ملي او نړیوال پروګرام جوړول اړین دي، چې د لنډمهالي او اوږدمهالي سرپناه جوړولو او بیارغونې، د ملکیتونو او نورو حقوقي ستونځو د حل، حرفوي زده‌کړو، کوچنیو کاروبارونو د تمویل، کرنیزو فرصتونو، روغتیایي خدمتونو او د ماشومانو د زده‌کړو لپاره مشخصې بودجې او عملي مهال‌وېشونه ولري. راستنېدونکي باید یوازې د بشري مرستو ترلاسه کوونکي او د ټولنې د اوږو بار نه، بلکې د هېواد د اقتصادي او ټولنیز ژوند د بیا رغونې فعال ګډونوال وګرځول شي. د هغوی مسلکي مهارتونه او کاري تجربې د ملي پرمختګ لپاره باید وکارول شي. په دغه برخه کې د نړیوالې ټولنې مسؤلیت هم یوازې تر بېړنیو بشري مرستو رسولو پورې باید محدود نه وي، بلکې د افغانستان د اقتصادي بیا رغونې، د خصوصي سکټور د پیاوړتیا، د کاري فرصتونو د پراختیا او د بنسټیزو چوپړتیاوو د ښه والي لپاره پراختیایي همکاري هم پکې شاملې وي.
له بده مرغه، د دغه لوی بشري ناورین د مدیریت لپاره په کافي اندازه د نړیوالو ادارو، اړوندو افغان بنسټونو او پراختیایي شریکانو ترمنځ تفاهم، تعامل، همغږي او د پایلو پر بنسټ عملي ګامونه نه دي پورته شوي. ددغو تشو تر ټولو درنه بیه راستنېدونکو کډوالو پرې کړه؛ هغو کورنیو چې له اوږدې کډوالۍ وروسته یې په خپل هېواد کې د یوه باثباته او باعزته ژوند تمه درلودله. بناً باید ومنو چې د راستنېدو د بهیر بریا یوازې د راستنو شویو کسانو په شمېر وړاندې کولو نه بشپړېږي، بلکې اصلي معیار یې دا دی چې څومره کورنیو ته د اوسېدو مناسب ځای، د کار او عاید سرچینې، روغتیایي او ښوونیزو چوپړتیاوو، د خوندي او اوږدمهاله ژوند امکانات برابر شوي او څومره یې له بیا بېځایه کېدو او کډوالي څخه ژغورل شوي دي. راستنېدل د بهیر پیل دی؛ د باعزته او اوږدمهاله ژوند برابرول یې بنسټیزه موخه ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ